نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۶/۰۹/۱۱

# یوه ورځ زحمت، د دوو کلونو ګټه



تقويم #عشر_ذو_الحجة لعام 1437هـ حسب رؤية الهلال و تقويم ام القرى

| اليوم | التقويم حسب رؤية الهلال | المناسبة | التقويم حسب أم القرى |
|---|---|---|---|
| السبت | 01 ذو الحجة 1437 هـ | غرة شهر ذو الحجة | 02 ذو الحجة 1437 هـ |
| الأحد | 02 ذو الحجة 1437 هـ | 04 سبتمبر 2016 | 03 ذو الحجة 1437 هـ |
| الإثنين | 03 ذو الحجة 1437 هـ | 05 سبتمبر 2016 | 04 ذو الحجة 1437 هـ |
| الثلاثاء | 04 ذو الحجة 1437 هـ | تاريخ اليوم \| الهجري | 05 ذو الحجة 1437 هـ |
| الأربعاء | 05 ذو الحجة 1437 هـ | @Hijri_Today | 06 ذو الحجة 1437 هـ |
| الخميس | 06 ذو الحجة 1437 هـ | 08 سبتمبر 2016 | 07 ذو الحجة 1437 هـ |
| الجمعة | 07 ذو الحجة 1437 هـ | 09 سبتمبر 2016 | 08 ذو الحجة 1437 هـ |
| السبت | 08 ذو الحجة 1437 هـ | 10 سبتمبر 2016 | 09 ذو الحجة 1437 هـ |
| الأحد | 09 ذو الحجة 1437 هـ | يوم عرفة | 10 ذو الحجة 1437 هـ |
| الإثنين | 10 ذو الحجة 1437 هـ | عيد الأضحى المبارك | 11 ذو الحجة 1437 هـ |



د حج له مهمو او حتمي رکنو څخه یو هم د عرفات په ورځ د عرفات په میدان د حاجیانو دریدل دي، الله ج حاجیانو ته ټول ګناهونه په همدې ورځ بخښي، ولي ځیني داسي لوی ګناهونه شته چې دهغې بخښل د الله ج په نزد شرایط لري، لکه شرک، قتل، د مور او پلار څخه عاق شوی زوی او د شرابو څښل.

داچي حاجیانو ته الله ج مغفرت کوي، بخښنه ورته کوي، عرفات په ورځ د حاجیانو دعاوي قبلوي، الله ج همدا ډول ټول امت مسلمه ته د ګناهونو د مغفرت لاره پرانستي پري ایښې ده، که د عرفات د ورځي روژه ونیول شي، الله ج د همدې یوې ورځې د قبول شوی روژی له برکته مسلمان ته یو کال مخکي او یو کال وروسته واړه ګناهونه بخښي **(مَنْ صَامَ يَوْمَ عَرَفَةَ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ سَنَةً) الحديث)** (صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ) الحديث





اصل کي د ذي الحجي (رواني) میاشتي لس ورځي ډیری برکتناکي دي، او په دې ورځو کي صدقات او روژې نیول د عادي ورځو په نسبت زیات ثواب لري، نهم ورځ يې عرفات او لسمه ورځ يې عیدالاضحی دی، تاسي به لیدلي وي چې د ذي الحجي میاشتي له لومړی څخه بیا د عرفات ورځي په شمول ډیر کسان روژې نیسي، الله ج دې د دوی دغه عبادتونه قبول کړي، مګر ځیني کسان چې توانایي نه لري، او یا د بېلابېلو لاملونو له کبله د ذي الحجې د لومړیو څخه د عرفات ورځي په شمول د دغو ورځو پوره روژه نشي نیولای، نو د دوی لپاره به ښه وي چې د عرفات د ورځي روژه ونیسي، د الله ج څخه د ګناهونو د مغفرت غوښتنه وکړي، او د ګران هیواد افغانستان لپاره هم حاجیان په عرفات



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

کي او هم روژتيان د روژه ماتي په وخت کي دعاوي وکړي چي نور موږ الله ج له دي بدو حالاتو څخه ښو حالاتو ته مخ کړي، نور زموږ په هيواد کي د جګړو اور مړ شي، په هيواد کي سوله، سوکالي او امنيت راشي، د بهرنيانو له غلامي او جاسوسي څخه زموږ افغان ورونه خلاص شي، د پرديو په لمسون د يو او بل افغان ورور له وژلو څخه لاس واخلو، له هيواد څخه د تيښتي پرځای د هيواد او خلکو لپاره خدمت وکړو.
زه له حاجيانو څخه هيله کوم چي زموږ مشرانو ته هم د الله ج څخه د عرفات په ميدان او روژه ماتي وخت کي د هدايت غوښتنه وکړي، تر څو نور له سياسي معاملو څخه لاس واخلي، د شخصي، ګوندي، ژبنيو، مذهبي اوسيمئيزو ګټو پرځای اسلامي، افغاني، کلتوري او ملي ګټو ته ترجيح ورکړي.
يادونه: د سپوږمي د ليدو پر بناء عرفات نهمه ورځ وی، او د ام القری تقويم له مخي عرفات ورځ د ذي الحجي لسمه ورځ ده.
پرحاجيانو د عرفات د ورځي روژه نيول نشته، ځکه هغوی د عرفات ورځ باندي ډير زيات ستړي وي، او راتلونکي شپه هم ډيره ستړيا ورته مخکي وي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ